مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۴/۰۵/۰۱

# خوږې خوږې

د کلي هغه رنه شپه یاده کړه
ښکلی ماشوم يې او دسمال دې په اوږه پينګ کړی
انګړ په رنګارنګ جامو کې له ښځمنو ډک دی
ته د واده په رنګينيو کې له موره ورک يې
زري جامو کې هره ښځه درته مور ښکارېږي
او
د کتاوېز پرتاووس کې نڅېدونکي هره دنګه نجلۍ
لکه بَبو
لکه ترله،
يا هغه مسته بدلزنه چي داريا کله له سره تاو کړي
او په اتڼ کې نجونې کيني په خرپ
د ګنو ګنو کميسونو د پاوليو يې شرنګا جوړه شي
خو ته دې مور لټوې
د کومې ښځې غږ دې پام کړي،
چي ستا مور يادوي:
«په ماليدې پسې دالان ته تللې.»
او ته داډه شې،
چي مور ورکه نه ده
اوس به ميسينه مجومه د ماليدې راوړي
او ستا به خوله خوږه شي
د ماليدې خوند داسې خوږ دی لکه نوم د ادې
«ګل ميستري» لګيا دی
د ښځو منځ کې د رازوړند ګيس جالی بدلوي
او چي ګيس بل کړي نو په سپينه رڼا
د بدلزنو پيغلو منځ کې د ميرو کاکا د لور په زنه
د رنجو خال ته موسک شي
پيغله د ګل ميستري
نظر ته وتخنيږي،
تکه سره شي .
ماښام ګاوبند نه هاخوا
د ويالې ښنګ ته په پساو کې څو دېګيو نه تيونه ختل
واه! د دمشويو وريجو بوی
او له شکرې يوه ډکه شکرۍ
بيا په ميسينو مجوموکې د پلاو په سر خوږه شکره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د میرو لور خپلي خورلنې ته د سترګو په کونج
ګل میستري ورښیي
د ګیس رڼا ته یې په وریجو غوړ بریت تور ځلیږي
نجوني پسنیږي، خاندي
سرخانان غوړېږي وریجې
میده شکره
او کوولي ځان ته غلي ساتي
او په اخر کې پرې راټول شي په خندا او ټوکو
ګل میستري په یو ګلدار غوري کې
ځپک ځپک کوولي
د کوم ماشوم په لاس «هغې» ته لیږي
د میرو لور خپلي خورلنې سره
غوری ترخنګه پټ کړي
ګل میستري ته د ماشوم په لاس مروړلی کاغذګی ورکوي.
او ته د مور په لیدو
له خوشالی،
ادې!
ادې!
نارې کړې
مور سره ډکه مجومه مالیده
تا ته :
آ- جار !
ووایي.
او ته له ځانه سره غلی وایې .
مورکۍ خوږه ده
مالیده هم خوږه.

ګل میستري ته یې نجلی خوږه ده
لکه د کلي ماشومانو ته چې
ژېړه شکره د شکرۍ خوږه ده .
او د میرو کاکا لور
د داریا غږ سره لنډۍ غبرګه کړي :

«خولګی مې خوره ځو یې خوږی شي
شکره نه ده چې په تول به کمه شینه»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ